بســــــــمل

۰۸اکتوبر ۲۰۱۲

## حامدکرزی، ملي يووالي اودخاورې تماميت؟

لمړی به په ملي يووالي څوکرښي وليکم :

له ۲۰۰۱ زکال را په دې خواپه کوردننه اوبهرافغانانوحامدکرزی ترنظرلاندې نيولی اوګام په ګام يې تعقيبوي. په دا يوولسوکلونوکي دغه بناغلي يوداسي ګام پورته نه کړ، چي ولس پرې راټول او وويارې.

له همهغي لمړی ورځي ترننه کرزي يوازې ددې هڅه کړې، چي دجنګي جنايتکارانوپه چاغولواونازولوخپل له ذلته ډک عمر اوږد کړي.

کرزي دولس په ځای دولس له دبنمنانو سره نه يوازې مصلحتونه وکړل، بلکي يادومصلحتونو ته يي دملي يووالي رنګ ورکړ، چي دا پخپله ولس ته توهين او دملي يووالي شرمول دي.

هرڅوک، چي له تجزيه طلب عطامحمدنور،قسيم فهيم،ضيأمسعود،بسم الله محمدي، غبرګ عبدالله،يونس قانوني او ځينو نورو سره دتاجکوپه استازيتوب مصلحتونه کوي دملي خيانت ترڅنګ زموږ له تاجګو ورونو سره نه بخښونکي جفاهم کوي همدارازکه څوک له دوستم ، محقق اوخليلي سره دازبکوياهزاره ورونو په استازيتوب مصلحتونه کوي دا هم د ملي خيانت او يادو قومونودسپکاوي ترڅنګ له هغوی سره نه بخښونکي جفا ګنم.

همدا ډول که څوک دپښتنوپه استازيتوب دا يو څو منفورې او پلورل شوې څېرې په مصلحتونو کي ورګډوي دا هم د ملي خيانت ترڅنګ دپښتون قام لوی سپکاوی اونه بخښونکی جرم بولم خوله بده مرغه کرزي تر ننه دداسي ناروا لوبو په کولوسره ولس زخمي زخمي او ترسپږمو را ورساوه.

اوس ،چي هم زموږ کړېدلی ولس دکرزي له لاسه دمرګي ترپولي ورسېداوهم مکاراوغدارګاونډيان زموږدولس په سينه سهارمابنام لمبې بلوي هلته دسلما ، کمال خان او نوروبندونودجوړېدو مخه ايران ډب کړې اودطالب په نوم په لويديځو ولايتونوکي هره ورځ دعلم او فرهنګ ډېوې راوژني ورسره څنګ کي بيا پاکستان يوه داسي ړنده اومجهوله جګړه پيل کړې، چي نهايي هدف يې سم نه دی روښانه.

دلته خبره دراکتونونه  ده زه فکر کوم په دي لوبه کرزی ښه خبر دی خو ولس ته حال نه وایي مانا دی ورسره شریک دی خو.

بیا هم دولس په سترګو کي خاورې ورشیندي  او وایي، چي امریکاپر افغانستان دپاکستاني بریدونو دفاع نه کوي.

زما په فکر داځیني لویدیځوال هڅه کوي له هرې خوا دچین او روس مخه ونیسي.

تاسو وګورئ دمیس عینک په اړوند ځومره دسیسي رواني دي همدارازپه شمال کي دتېلو راایستلو چینایي کمپنی د دوستمیانو له ځومره فشارونو سره مخ ده.

هلته روسانوهم له تاجکستان سره  دنورو۳۰دېرشوکلونوپه موده پوځي قراردادونه وغځول داهرڅه دیوې اوږدي او پټي جګړې علایم دي خوداچي  په پښتنو راکتونه ورېږي اوکرزی وایي چي امریکاله موږ دفاع نه کوي نه سمي وسلي راکوي

نو وه  د ولس دښمنه که امریکاله افغانستانه  دفاع نه کوي هغه ستا ستراتیژیک ترون بیا دڅه لپاره و؟

تا خو وېل، چي خوب دست وپای شان رابسته کردیم.

ستا په کومه خبره به ولس باور وکړي؟

سهار یوڅه غرمه بل څه او ماښام بل څه وایي ته او خدای صحي کتني دي کړي دي؟

آیاداستاسر او زړه له کانوڅخه جوړدی، چي له نني ناورین اونادودوسره سره دومره بي تفاوته او غافل یي ، چي هم ځان غولوې اوهم ولس؟

داځل دي نوې مداري ګري ته لاس اچولی غواړې دهېوادورونه قومونه داسي په وینو رنګ کړې لکه  رباني، چي کابل په وینو رنګ او لوټي لوټي کړ.

که زما خبره په ځای نه وي نو څه اړتیا وه، چي دافغانستان  د ورانوونکي په نوم دښووني او روزني پوهنتون ونوموې؟

تانه یوازې دیادپوهنتون محصلین له زده کړو وایستل بلکي دهېوادپه کچه دې زموږځوان نسل وروروژني ته وپاراوه.

دا دی د رباني زوی هم متعرضو محصلینوته وېلي ، چي دپلار په نوم لیکل شوې لوحه یې دکوزېدو نه  ده.

خدای مه کړه که محصلین له  تشددڅخه کاروا‌خلي لوحه  راکوزه اوستادقسیم فهیم ځنګلي او لنډه غر پولیس  ډزې پرې وکړي بیاخو د ټولو ناوړو پایلو مسؤل ته ګڼل کېږې.

ټول  پوهیږي ، چي دا ډرامه  دې  ددې لپاره رامخ ته کړې، چي هم دایران او پاکستان له ظالمانه تعرضاتو څخه دولس پام دې خواته واړوې، هم دورستیومقرریوخبره له خلکو هېره کړې اوهم داضطراري حالت لپاره لا له اوسه دورونوقومونو په مینځ کي اوربل کړې.

آیا ملي یووالی داسي پالل کیږي لکه دا ته یې، چي پالې؟

داوې  په لنډ ډول دملي یووالي په اړوند دکرزي تاریخي شاهکاری چي افغان ولس یې له بارانه ناوې ته کښېناوه.

اوس به دخاورې دتمامیت په اړوند دکرزي له ګلکاریوڅخه  یوڅوکرښي ولیکم:

په افغان ولس دکرزي تېل څه دټوکو یا قمار خبره نه وه او نه ده ځکه چي ملیټاریزم او کپیټالیزم دخپلي خېټي دلاپړسولو لپاره دنړی په بډایو سیمو کي کرزي ته ورته کسان لټوي.

کله یې، چې داړول افرادومونډل  بیا ښه زحمت ورسره باسي اوداګلالي ماغزه سم ستره ورمینځي داحساس اونارینتوب عصب  اوحجرات یې له بېخه ورڅخه باسي بیاترهغوپورې  شعبده بازي  پرې کوي ترڅويې چې دغه له زېرمو ډکې سیمې نه وي لوټ کړې .

اوس تاسې ووایاست داسې یوڅوک، چې دنورودګټولپاره صحنې ته راوستل شوی وي هغه به دخپلې خاورې دتمامیت څه پرواواحساس ولري؟

که یادمووي  څه باندې درې کاله مخکې ناټوپه څوپښتون مېشتو ولایتونوکې  زیات ملکي وګړي بمبارد کړل په سبا یې کرزی  دولس غولولو لپاره په ارګ کې ډېر وغوړمبېد دایې هم وویل،چې ««اختیاراین خاک ازمن است»».

په نوروخبرو اولاپویې ستاسووخت نه نیسم خودادې کلونه تېرشول نه یوازې دناټوظالمانه بمورۍ یې ونه درولې، بلکې د پاکستان  راکټونوته یې هم اوس مړه غوړونه نیولي اووایي موږ اخوا ته  ځوابیه راکټونه نه ورولو ځکه، چې هلته زموږ ورونه  اوسیږي .

نو داته له  دې  وروڼوسره  څومره  په زړه پورې مینه لري، چې له یوې خواځوابیه  راکټونه نه ورشړي  خوله بلې خوابیا دبې پیلوټوالوتکوهغه بمورۍ درته مسخرې ښکاري چې دشکمنوپه پلمه ستادوروڼوله کوروڅخه  پرله پسې جنازې باسي؟

عمران خان چې پاکستانی  دی  دبې پیلوټو الوتکو پر خلاف یې لاریون  پیل کړی  ولو که هرڅومره سیاسي موخې هم لري  خو کم له کمه یې دا وښوده، چې دا بمورۍ جنایت او دولتي ترور دی.

درنو لوستونکو!

تاسې به هم وایاست ، چې داپه کرزي پسې دې ولې رااخیستې ده.

ځواب مې دادی، چې په ولس اوهېوادمې زړه سوځي  زموږګران افغانستان  دکرزي په دورکې نه پوره کېدونکې زیانونه ولیدل.

زموږ دهېواد په رګ رګ کې دکرزي له لاسه بهرنۍ څارګرې شبکې لکه وېروس غوندې ننوتي او نړیواله جګړه یې  راوړه.

همدغه کرزي دولسمشرپه نوم دخپل بې وزله ولس په غاړه کې دعطامحمدنور، دوستم، قسیم فهیم،  خلیلي اومحقق په شان لړمان ورواچول  ددې ترڅنګ یې دهېوادغښتلي پښتون ټبرته دومره زیانونه وروړسول، چې نه انګرېز ورسولي و او نه روس .

همداافغان ولس په  تېره بیاپښتون  ټبر و، چې څوځلې یې کرزي  ته زړه ورکړ خویو ځل یې هم خیر ورڅخه ونه لید.

دستراتیژیکو تړونونوپه  پلمه یې دافغان ولس لاس اوپښې وروتړل خولا هم  دخلګو په سترګوکې خاورې وراچوي ، چې له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته به هیڅ منفي تغییرات  رامینځ ته نه شي مانا هرڅه به ګل وګلزاروي.

زه نه پوهېږم، چې دکوم  ډاډ او قوت له مخې داډزې کوي؟

که کرزی دې ته خوښ وي، چې له پاکستان سره به دستراتیژیک تړون له لارې خپلونامشروعوارامانونوته ورسیږي  اوپه ارګ کې به نور هم پسې پلن شي داخوب  دې اوبو ته ووایي.

کله  چې کرزی  ددې واک او وس نه لري چې دپاکستان  د زرګونو راکټونو په  ځواب کې یوه مرمۍ ور وولي نو بیا په کوم زور پاکستان  ته  شرایط وړاندې کوي؟

شرایط خویي امریکا ته هم وړاندي کړي وو یوه محکومه او شرمېدلي لویه جرګه یې هم پرې  را وبلله نتېجه یې څه شوه؟

خیبرنه چي ماهیپرهم ورکړي پاکستان نه شي  راضا کولای داخبره مي لا څو کاله مخکي له ازادي  رادیوڅخه کړي وه.

لنډه یې دا،چې کرزي یوازې  په ارګ کي دخپل سیاسي ژوند دبقأ لپاره  دا وروستیودسیسوته لاس اچولای نور نه دملي یووالی په کیسه کي دی، نه د خاوری تمامیت او ملي حاکمیت.

لکه  دپنجشنبې  په ورځ مي چي دآزادی  رادیوله لارې خپل وجداني مسؤلیت رفع کړ پدې لیکنه کي یې بیاتکراروم، چي دافغان ولس په ننني بې وسي کي چي هرڅوک دډېورنډدناولي کرښې اویاله پاکستان سره دستراتیژیک ترون مسئله  را پورته کوي ملي خیانت کوي  ځکه ، چي اوس یې وخت نه  دی موږ خورا ضعیف اوتربهرني اشغال لاندې یوخوله  دې سره سره دادی وینو، چي په  ارګ  مین کرزي دې لویې جفا ته هم نېت کړی زه  فکرکوم  تاسوبه  هم  راسره موافق یاست ، چي د ولسمشر په ځای ورته ولسمرګ یا فسادمشر ووایوبهتره به وي.

دګران افغانستان دنجات اوملي خاینانودرانسکورېدو په هیله

ومن الله التوفیق

۲۰۱۲ـ۱۰ـ۰۷

***یادداشت:***

*لازم به یادآوریست تذکر دهیم:*

*کرزی به مثابۀ انسان خود فروخته و مزدور به همان کاری دست می زند، که بادارانش از وی بخواهند، لذا به نظر ما داشتن هرنوع توقعی از کرزی، به غیر از آنچه انجام می دهد، نمی تواند درست و منطقی باشد.*

*نکتۀ دوم آن است که در کنار شورای نظاری ها، وحدتی ها و دوستمی ها، نباید جنایتکارانی از قماش، گلبدین، سیاف ، ملا عمر و سایر فروشانی را که جنایت و خیانت شان را به نام ملیت پشتون، معرفی می دارند، فراموش نمود، چه آنها نیز در جنایت و خیانت دست کمی از رقبای دیگر شان ندارند.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*